
د ښځو د سولې لنډیز – د ۲۰۲۱ کال د مې میاشت


د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر میاشتې په ۱۱مه نیټه د متحده ایالاتو او ناټو د سرتېرو بې شرطه وتلو په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **۲،۸۴۵ ښځو په هرات، ننګرهار، بلخ، هلمند، تخار، بامیان، کندهار، دایکندي، پنجشېر، جوزجان، فراه، فاریاب، بادغیس، بغلان، کونړ او پکتیا ولایتونو کې، د متحده ایالاتو او ناټو د سرتېرو د بې شرطه وتلو په اړه د ۲۰۲۱ کال د مې میاشتې د ښځو د سولې د لنډیز په نظر اخیستنه کې ګډون وکړ.**
- **٪۶۵ ګډونوالو وویل چې د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۱مه د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو بې شرطه وتل یوه مسؤولیت منونکې تګلاره نده.**
- **٪۵۶ د ګډونوالو په اند د متحده ایالاتو له وتلو څخه وروسته د طالبانو په بریدونو کې زیاتوالی تر ټولو ډېر اټکل شوی حالت دی. د ملکي وګړو په وژنو کې زیاتوالی دوهم ډېر اټکل شوی وضعیت (۱۶٪) دی، ۴۸٪ ګډونوالو وویل "ښه امنیت" چې تر ټولو کم اټکل شوی وضعیت دی او ۲۴٪ وویل چې "کوم ځانګړی بدلون به نه رامنځته کېږي".**
- **٪۵۳ ګډونوالو وویل چې متحده ایالات و ناټو باید له وتلو وروسته له اوربند څخه ملاتړ ته لومړیتوب ورکړي. ۱۶٪ وویل چې هغوی باید د اوسني اساسي قانون ساتلو ته لومړیتوب ورکړي.**
- **٪۷۶ ګډونوالو وویل چې خبرو اترو ته د بېرته راتلو لپاره د طالبانو شرطونه غیرمنطقي دي. ۱۶٪ وویل چې منطقي دي.**
- **په لسو ولایتونو کې متمرکز ډله ییز بحثونه جوړ شول. ګډونوالو، په سروې کې د ښځو له خوا ښونو سره ډېر مو افقت وښود. د ګډونوالو اکثریت، له سولې او د افغانستان له اساسي قانون څخه د متحده ایالاتو او ناټو د ملاتړ د ادامې شدیده هیله وښوده. د ګډونوالو اقلیت د ناټو د وتې او موخو په هکله بې پرو ایي وښوده.**

شالید او د سروې پوښتنې: د اپریل په ۱۴مه نیټه، د متحده ایالاتو ولسمشر جو بایډن اعلان وکړ چې د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونه به د سپټمبر په ۱۱مه له افغانستان څخه ووځي، له دې سره یې زیاته کړه چې دا وتل به بشپړ او پرته له کوم شرطه وي. طالبانو د دې اعلان په کلک هرکلي سره زیاته کړه چې د مې د لومړۍ نېټې د وتې ځنډول په ۲۰۲۰ کال کې د امریکې او طالبانو ترمنځ شوې هوکړې په ښکاره توګه سرغړونه وه او په ټینګار سره یې وویل چې د یوې سوله ییزې حل لارې موندلو ته ژمن پاتې دي خو یوازې وروسته له هغې چې په سپټمبر میاشت کې د امریکې وتل بشپړ شي. د سولې د هوکړې په لوړې د پام وړ پرمختک په نه شتون سره، د امریکې بشپړ او بې شرطه وتلو د خلکو او د مدني ټولنې د فعالینو په منځ کې اندېښنې راپاروې دي چې دا کام به پر طالبانو باندې د مذاکرې او جوړجاړي نړیوال فشار له منځه یوسي.





له لسو ولایتونو (هرات، بامیان، کندهار، بلخ، هلمند، تخار، ننګرهار، پنجشېر، دایکندي او جوزجان) څخه د متمرکزو ډلو بحثونه:

له ګډونوالو څخه پوښتنه وشوه چې د سروې د نتایجو په اړه څه فکرکوي او خپله به یې څرنګه ځواب وویلی وای.

لومړۍ پوښتنې ته د سروې شوو ښځو ځوابونه د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوالو ته منطقي وبرېښېدل. د هغوی په نظر د امریکي او د ناټو د ځواکونو بې شرطه وتل بې مسؤولیتي ده ځکه چې دا د افغان ولس لپاره، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره منفي پایلې لري: د تاوتریخوالي زیاتوالی، د ملکي وګړو د وژل کیدو زیاتوالی، طالبانو ته د لا زیاتې سیمې بایللو، او د ښځو د لاسته راوړنو په خطر کې اچول. د متمرکز ډله ییز بحث د ګډونوالو نظرونو د سروې د دوهمې پوښتنې په اړه هم د سروې له ځوابونو سره مطابقت درلود، خو د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوالو دغه منفي حالتونه د امکان له پلوه یو شان وګڼل او د سروې ځواب ویونکو دغو حالتونو ته مختلفې شونتیاوې وټاکلې.

د ګډونوالو له نظره، د جګړې په زیاتېدو او د مذاکراتو په ورو کېدو سره د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو ته اړتیا تر هر وخته زیاته ده. د سروې د درېیمې پوښتنې د ځواب ویونکو په شان، د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوال په دې باور ؤ چې له وتلو وروسته د ناټو د غږو مهم نقش به دا وي چې د اوربند لپاره او د اوسنۍ اساسي قانون د ساتنې لپاره (که څه هم په برابره اندازه، پداسې حال کې چې د سروې ځواب ویونکو پر اوربند باندې ټینګار کاوه) فشار وارد کړي. له دې سره نور ټینګار پر دې وشو چې فشار کېدای شي چې نه یوازې پر طالبانو بلکې د هغوی پرسیمه ییز ملاتړ کوونکو باندې هم وارد شي.

له دې سره سره، داسې ګډونوال هم ؤ چې د هغوی په باور د امریکي او ناټو وتل دا ثابتوي چې هغوی د تروریزم د ماتولو، د ښځو د حقونو د ملاتړ، او د ډیموکراسۍ د ترویج په اړه په خپلو ژمنو باندې ولاړ نه ؤ. ګډونوال همدارنګه په دې باور ؤ چې د هغوی وتل له طالبانو څخه دا فشار لېرې کوي چې د سولې په خبرواترو کې ګډون وکړي. د ګډونوالو یو اقلیت د متحده ایالاتو او ناټو متحدینو د دغو ژمنو په اړه شک درلود چې له تروریزم سره به مبارزه کوي او ټینګار یې وکړ چې دا یوازې یوه لوبه وه او متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو یوازې خپلې ګټې غوښتلې.

په پای کې، د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د خوشې کېدنې تجربې ته په کتلو سره، د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوالو په اتفاق سره د ځلورمې پوښتنې په دې ځواب باندې موافقت وکړ چې د طالبانو شرطونه غیر منطقي دي ځکه چې د هغوی په نظر دغه ډله د باور ور نده. د سروې ځواب ویونکو د طالبانو د شرطونو نه منلو ژوره څرګندونه وکړه (۷۶،۴۵٪ وویل چې دا غیر منطقي دي) خو د متمرکز ډله ییز بحث ګډونوالو دا موضوع په لا زیات شمېر کې څرګنده کړه. د

کډونوالو له نظره، دا امکان شته چې خوشې شوي بندیان به بېرته د جګړې ډګر ته وروګرځي او د تاوتریخوالي په کچې او د ملکي وګړو په وژنو کې به زیاتوالی رامنځته کړي. همدارنګه دوي ټینګار وکړ چې د دغو شرطونو منل کولای شي په احتمالي توګه د ښځو حقونو کې د جوړجاړي لامل شي. کډونوالو همدارنګه یادونه وکړه چې داسې شرطونه یوازې د طالبانو لخوا وراندې کېږي، پداسې حال کې چې افغان حکومت ژمن دی چې پرته له کومه شرطه په مذاکراتو کې ګډون وکړي.

د متمرکزو ډله ییزو بحثونو د ګډونوالو په څو ابونو کې ځینې ځایي توپیرونه شته. د نورو کډونوالو برعکس، د پنجشېر ولایت ښځې په استثنایي ډول ډاډمنې وې او په اتفاق سره یې وویل چې په دې ولایت کې به وضعیت ډېر بدلون ونه مومي، خو ویې منله چې په نورو ولایتونو کې، په ځانګړې توګه په سوبل کې به نورې سیمې د طالبانو تر کنټرول لاندې راشي. په ټلفوني سروې کې، د پنجشېر ولایت څوابونو له نورو ولایتونو سره ډېر مطابقت درلود: د طالبانو په بریدونو کې او د ملکي وګړو په وژل کیدو کې زیاتوالی تر ټولو زیات شوني حالتونه وو (۳۸،۰۲٪ او ۲۳،۹۷٪).

له دې سره هم مهاله، په هلمند کې ډېرېدو ښځو د متحده ایالاتو او ناټو د ژمنو د ارزښت په وراندې لا زیاته بې باورۍ وښوده. حتی دا باور هم شته چې د ناټو د غږو، د ښځو د حقونو او د ډموکراټیکو بنسټونو د ساتنې موخې رښتیا نه وې.

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مېز ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تګلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د کډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې ریې راټولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تګلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تایید د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کوټ کوټ کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغانې ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مېز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ رده - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا ورتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.